# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د جولای پنځمه | ۵۶۱مه ګڼه

2 017550 139621


## تر سولې وروسته افغانستان؛

### خلیلزاد او طالبانو پر راتلونکو بنسټیزو او پراختیایي پروژو خبرې کړې دي



۳

**پوهنتون**

۴ مخ

## شمال د لوړو زده کړو موسسه

اړتیا تـه پـه کتـو د ښـووني او روزنـې پوهنځـي ایجـادول، د حقوقـي کلینیـک فعالـول، اسـتادانو او محصلینو تـه د وړتیاوو لوړولـو او تجربـو تـر لاسـه کولـو لپـاره زمینـه برابـرول د دې موسسـې راتلونکـي پلانونـه دي.



## کرنې ریاست: په لغمان کې د څلورو میلیونو افغانیو په ارزښت د شیدو ټولولو مرکز جوړېږي



د لغمان د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، د دغه ولایت په قرغیو ولسوالۍ کې د ۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د شیدو ټولولو د یوه ستر مرکز د جوړولو بنسټ کېښودل شوه.
د لغمان د کرنې او مالدارۍ رییس انجنیر محمد جمیل خوشحال ویلي، چې د شیدې ټولولو دغه مرکزونه چې د کرنې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه جوړېږي، د جوړولو لګښت یې څلور میلیونه افغانۍ ده.
نوموړي زیاته کړې چې په قرغیو کې به د دغه مرکز د جوړولو چارې د روان کال تر پایه بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي. د شیدو ټولولو دغه مرکز چې د لسګونه لیټره شیدو د ټولولو وړتیا به ولري، عصري خونې، د زېرمې خونه او ګدام به هم ولري.
د دغه ولایت چارواکي وایي چې د یادو مرکزونو د جوړولو موخه د مالدارۍ د تولیداتو له لارې د خوړو خوندیتوب دی.

### ځو ګامه تر بین الافغاني خبرو

۲ مخ

### د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندېښنې

۲ مخ

### ولسمشر وایي، نولس کاله مخکې په افغانستان کې پنځه لوستي کسان نه وو!

۲ مخ

## بهرنیو چارو وزارت: کابل به روانه اونۍ د سولې په تړاو د دریو مهمو غونډو کوربه وي

بهرنیو چارو وزارت وایي، چې کابل به روانه اونۍ د افغان سولې لپاره د سیمه ییزې او نړیوالې اجماع د پیاوړتیا په موخه د دریو مهمو ناستو کوربه وي.
یاد وزارت وایي، ډیپلوماټیکې هڅې یې زیاتې کړې چې د بین الافغاني خبرو له پیل وړاندې د افغان سولې لپاره سیمه ییزه او نړیواله اجماع لا پیاوړې او ګرندۍ کړي.
د دغه وزارت چارواکو ویلي، کابل به د دې اونۍ په اوږدو کې د دریو مهمو؛ یوې سیمه ییزې، بلې نړیوالې او درېیمې هم د یوې درې اړخېزې غونډې کوربه وي.
د دغه وزارت د ویاند ګران هېواد له لوري رسنیو ته په استولي غږیز پیغام کې ویل شوي، لومړۍ غونډه به سبا (دوشنبې په ورځ) د شل سیمه ییزو او لویو هېوادونو ترمنځ وي، دویمه به د سې شنبې په ورځ وي، چې د افغانستان، پاکستان او چین ترمنځ د ستراتېژیک ډیالوګ ترنامه لاندې جوړېږي. هغه زیاته کړې چې درېیمه ناسته به د ویډیو کنفرانس له لارې وي او هغه ستر هېوادونه به پکې برخه واخلي چې په تېرو ۱۹ کلونو کې یې له افغانستان سره اقتصادي او امنیتي برخو کې همکاري کړې وي.
نوموړي ویلي: «د دریو واړو لویو غونډو د جوړېدا هدف د سولې په اړه د سیمه ییزې او نړیوالې اجماع پیاوړتیا ده، څو د سولې بین الافغاني خبرې ژر پیل او مطلوبو نتایجو ته ورسېږو.»
خو هېواد دا نه دي ویلي، چې په دغو دریو واړو غونډو کې به هېوادونو په کومه کچه استازي ګډون وکړي.

## په افغانستان کې روان تاوتریخوالی د سولې خبرې له ستونزو سره مخ کوي



۲ مخ

## صدیقی: به زودی صدها زندانیان طالبان از زندان‌های حکومت رها می‌شوند



ریاست جمهوری افغانستان می‌گوید، شماری دیگری از زندانیان گروه طالبان به زودی از زندان‌های حکومت رها می‌شوند.
بر اساس موافقت‌نامهٔ قطر پیش از آغاز مذاکرات بین افغان‌ها حکومت باید ۵ هزار زندانی طالبان و طالبان یک هزار زندانی حکومت را رها کنند.
صدیق صدیقی سخنگوی رئیس جمهور اشرف غنی با رادیو آزادی گفته است: « به زودی چند صد زندانی دیگر طالبان رها می‌شوند. این اقدام به خاطری صورت می‌گیرد تا مطابق توافق‌نامه طالبان و امریکا، طالبان به گفت‌وگو های مستقیم آماده شوند.» اما صدیقی نگفت که چه تعداد زندانیان طالبان رها می‌شوند.
سخنگوی ریاست جمهوری افغانستان ابراز امیداری کرد که طالبان پس از این اقدام برای آغاز مذاکرات بین افغانان آماده شوند.
بر بنیاد موافقت‌نامه ای که میان طالبان و امریکا حکومت افغانستان تاکنون نزدیک به ۴ هزار زندانی طالبان و طالبان بیش از ۵۰۰ زندانی نیروهای امنیتی افغان را رها کرده اند.
حکومت افغانستان تا حالا ۳۵۰۰ زندانی طالبان را آزاد کرده و طالبان هم گفته اند ۷۰۰ زندانی مربوط به حکومت را رها کرده اند.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریـــغ

### ځو ګامه تر بین الافغاني خبرو

داسې ښکاري چې د بین الافغاني خبرو پر وړاندې شته خنډونه له منځه تلونکي دي او ژر به د افغانانو ترمنځ د سولې لومړنۍ غونډه په دوحه کې وشي. د خلیلزاد په وروستي سفر کې هڅه شوې چې دې غونډې ته لاره هواره شي. له اشرف غني او عبدالله سره د خلیلزاد له خبرو وروسته اوس پلان دی چې ژر پاتې نور بندیان هم خوشې شي او ورسره سم افغان پلاوی د خبرو لپاره دوحې ته ولاړ شي، ځو د جولای په ۱۵مه نېټه په کېدونکې بین الافغاني خبرو کې برخه واخلي. د دې تر څنګ د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت هم ویلي چې د سولې خبرو د چټکتیا او د بین الافغاني خبرو د ژر پیلېدو په موخه روانه اونۍ د دریو «مهمو» غونډو کوربه‌توب کوي. د دغه وزارت په خبره، په دریو واړو غونډو کې به د پاکستان او چین په ګډون د ځینو مرستندیو هېوادونو استازي هم برخه واخلي. ټاکل شوې لومړنۍ غونډه به سبا دوشنبه په کابل کې وشي.

د بین الافغاني خبرو پر وړاندې ډېر خنډونه جوړ شول چې له امله یې دا خبرې درې نیمې میاشتې وځنډېدلې. له دې سره جګړې دوام وکړ او د زرګونو افغانانو ژوند یې واخیست. اوس چې دا خنډونه له منځه تلونکي دي او بین الافغاني خبرې پیلېږي، تمه ده چې په دې خبرو کې مهم پرمختګونه وشي. هغوی چې د خبرو د پیل پر وړاندې یې خنډونه جوړول، هڅه به وکړي چې د خبرو په پرمختګ او بریا کې هم ستونزې او خنډونه جوړ کړي. له همدې امله پکار ده چې په ټول توان د دغو مخربینو مخه ونیول شي. د بین الافغاني خبرو په لومړۍ غونډه کې باید پر اوربند بحث او توافق وشي او که دا کار وشي، نو دا به په واقعي مانا یو لوی او مهم پرمختګ وي او د جګړه‌خوښو شوم پلانونه به ورسره شنډ شي.

اوس پکار ده چې ټول تمرکز د بین الافغاني خبرو پر بریالیتوب وي. اوږده جګړه شوې، ورانۍ شوی، فاصلې زیاتې دي، چې د دغو فاصلو کمول او ختمول سخت کار دی، خو ناشونی نه دی. له همدې امله سخت کار، ډېرې حوصلې، انعطاف او قربانۍ ته اړتیا ده چې دا فاصلې ختمې شي. د دې لپاره چې دا خبرې ښه پرمختګ وکړي او بالاخره بریالۍ شي، باید د ولسي فشار یو ځواک جوړ شي چې پر دواړو اړخونو دوامداره او معقول فشار جاري وساتي، څو انعطاف او قربانۍ ته تیار وي. ولسي فشار باید هغه کړۍ هم له پښو وغورځوي چې د سولې په روانو خبرو کې د خنډونو د جوړولو هڅه کوي. د دې تر څنګ په روانو خبرو کې لوی او اساسي خنډونه چې حل کول یې ستونزمن دي، باید ولسي رایې ته پرېښودل شي. د بېلګې په ډول پر اساسي قانون او د نظام پر ډول توافق به ستونزمن کار وي، خو ښه ده چې په دې اړه وروستۍ پرېکړه ولس ته پرېښودل شي، څو د ټولپوښتنې یا لویې جرګې له لارې وروستۍ پرېکړه وکړي.

اوس چې بین الافغاني خبرو ته نږدې شوي یو، نو اړتیا ده هر څوک چې په دې خبرو کې د پرمختګ او بریا لپاره هر څه کولی شي، باید ویې کړي، ځکه چې دا زموږ ټولو دنده ده چې دا خبرې بریالۍ شي او په افغانستان کې روانه جګړه ختمه شي.

# د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندیښنې

لیکنه: عبدالرشید نایل

**وروستۍ برخه:**

په افغانستان کې پر آمو سیند له تاجکستان سره په ګډه د زېربناوو جوړول د رسوباتو له کموالي او د سیند د څنډو له خرابوالي مخنیوی کوي، کوم چې هم په لوړو هېوادونو او هم په لاندې هېوادونو منفي اغېزې کوي او په تېره بیا په ازبکستان او ترکمنستان کې د اوبو لګونې پر سیستمونو بده اغېزه لري، په دې تړاو همکاریو ته لاره هواروي. دا زېربناوې په افغانستان کې د سېلابونو د ناوړه اغېزو په مخنیوي کې هم خورا زیات اهمیت لري. پورتنۍ دوې ګډې پېشنهادي پروژې، په آمو سیند حوزه کې د اوبو د لوړو او لاندې هېوادونو ترمنځ د ګډو همکاریو یو مهم فرصت بلل کېږي. له افغانستانه د نړیوالې ټولنې ملاتړ هغه هم فرصت دی، چې د اوبو د مدیریت په برخه کې د شته ننګونو په له منځه وړلو کې مرسته کوي.

که څه هم، د پخواني شوروي په زړو سیستمونو د آمو سیند حوزې د اوبو غیرمنصفانه او غیرمعقول وېش اوس هم د اندېښنې وړ دی او ښایي د اوبو منصفانه وېش له ستونزو سره مخ کړي او له کبله به یې په دې حوزه کې د افغانستان پراختیایي اقدامات د منځنۍ اسیا د جمهوریتونو اندېښنې له ځان سره ولري. خو له بده مرغه داسې ښکاري چې افغان حکومت په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې له ځینو فرصتونو سره سره د آمو حوزې د اوبو د سرچینو پراختیا او د شته ستونزو هوارې ته ډېره پاملرنه نه ده کړې. دا اندېښنه هم شته ده، که افغانستان نور هم د سیمې د اوبو د وېش په اړه خبرو اترو کې د ګډون په تړاو سستي وکړي، ښایي د خپلو اوبو د حقوقو معلومولو اوسني فرصتونه هم له لاسه ورکړي.

**پایله**

د دې څېړنیزې مقالې موخه په ټولیز ډول له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان د شریکو اوبو په اړه د شته ستونزو او اندېښنو څېړنه ده. دا چې په وروستیو دوو کلونو کې په ځانګړې توګه له ایران سره د ګډو اوبو قضیه یو څل بیا جنجالي شوې، دلته مو هڅه کړې د ایران په ګډون د ګاونډیو هېوادونو، چې له افغانستان سره ګډې اوبه لري، اندېښنې وڅېړو او دا چې د دوی اندېښنې څومره پر ځای دي او دغه راز پر دوه‌اړخیزو اړیکو یې څومره اغېزې کړې دي.

که څه هم په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه هم د اوبو زیاتېدونکی اهمیت پام‌وړ موضوع ده؛ خو له ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان د ګډو اوبو د قضیې له کبله د ګاونډیو هېوادونو اندېښنې او لاسوهنې، د هېواد په اقتصادي وضعیت او په تېره بیا په صنعت او کرنیز سکتور کې د اوبو ارزښتناک رول، د اوبو د کچې د ټیټوالي او له کبله یې د څښلو پاکو اوبو ته نه لاسرسی او داسې نور هغه موضوعات دي، چې په هېواد کې دننه یې د اوبو اهمیت او مدیریت ته پام اړولی دی. خو له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو په برخه کې شته ستونزو د اوبو په سکتور کې د پراختیایي کارونو او نړیوالو پانګونو مخه ډب کړې ده.

افغانستان که څه هم په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې د اوبو د مدیریت په برخه کې ځینې لاسته راوړنې لرلې دي؛ خو لا هم په دې برخه جدي ستونزې او کمۍ شته دي. په دغو لاسته راوړنو کې د افغانستان د اوبو قانون نهایي کول (۱۳۸۸ لمریز کال)، د فرامرزي یا له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د کمیسیون جوړول (۲۰۱٦ زېږدي کال)، د فرامرزي اوبو د پالیسۍ مسوده وروستیو پړاوونو ته رسېدل، چې د افغان حکومت د سیاسي ارادې ښودنه کوي، له تاجکستان سره د اوبو د سرچینو د مدیریت او پراختیا په اړه د ۲۰۱۰ او ۲۰۱٤ کلونو هوکړه‌لیکونه، له پاکستان سره د کونړ سیند د پراختیا لپاره د لارو چارو لټولو په اړه د ۲۰۱۳ کال هوکړه‌لیک او د سلما بند افتتاح یې مهم موارد دي.

د افغانستان د اوبو له پنځو حوزو څخه، څلور یې له نورو هېوادونو سره ګډې حوزې دي، چې اوسمهال تر ټولو ډېرې ستونزې له ایران او بیا پاکستان سره د هلمند او کابل سیندونو په حوزو کې دي. له یوې خوا ایران د وروستیو وچکالیو له کبله د اوبو له کمښت سره مخ دی او له بلې خوا په افغانستان کې د اوبو د مدیریت او په ځانګړې توګه په هلمند او هریرود-مرغاب حوزو کې د اوبو د بندونو د جوړولو له قضیې په وېره کې دی او له کبله یې له بېلابېلو لارو پر افغانستان فشارونه واردوي. که څه هم د هلمند سیند د اوبو په تړاو له ایران سره تړون هم شته دی؛ خو د دغه سیند د اوبو د کچې او په تېره بیا ایران ته د بهېدونکو اوبو په اړه د کره او دقیقو معلوماتو نشتون د دې لامل شوی، چې ایران خپل بېلابېل فشارونه جاري وساتي.

له ایران سره په ۱۹۷۳ کال کې شوي تړون کې، دغه هېواد ته د هلمند سیند له اوبو څخه په نورمالو کلونو کې په هره ثانیه کې ۲٦ متر مکعب اوبه (۲۲ متر مکعب د ایران سهم او ٤ متر مکعب د ښه ګاونډیتوب) منل شوې دي؛ خو په هېواد کې د اوږدو جګړو له کبله په تېرو کابو څلورو لسیزو کې د دغو اوبو د دقیقې کچې په اړه کره مواد نشته دي او په دې موده کې د اوبو اندازه کولو سیستمونه فعال نه وو. د هلمند د اوبو د اوسني وضعیت او له دغو اوبو څخه د دواړو هېوادونو د اوسني سهم په اړه د کره موادو او معلوماتو نشتون له ایران سره د ګډو اوبو مسئله ورځ تر بلې پېچلې کړې او جنجالي کړې ده. د کره موادو نشتون له کبله پر دغو اوبو د وچکالۍ د اغېزو په اړه هم دقیق معلومات نشته دي او په دې تړاو یې خبرې اترې له ماتې سره مخ کړې او دواړه لوري یې د تورونو لګولو په لوبه کې ښکېل کړي دي. دغه وضعیت پر دوه‌اړخیزو اړیکو خورا منفي اغېزې هم کړې دي.

له یوې خوا ایران، په سیستان او بلوچستان ولایت کې د هامون د وچېدو له کبله له اقتصادي او چاپېریالي ستونزو، لکه بې‌کارې، بې‌وزلې، کډوالې، قاچاق، ناامنې، ګرد او غبار او داسې نورو سره مخ دی. ان دغه سیمه د څښاک د پاکو اوبو له کمښت سره هم مخ ده. له بلې خوا ایران اندېښنه لري چې د هلمند سیند د اوبو کچه به نوره هم کمه شي او له همدې امله په افغانستان کې د بندونو د پروژو له کبله په وېره کې دی. خو د موضوع څېړنه ښيي چې د ایران اندېښنې ډېرې پر ځای نه دي. له یوې خوا د هامون د وچېدو لاملونه یوازې د هلمند سیند د اوبو کموالی هم نه دی، بلکې د وچکالیو ترڅنګ د ایران له خوا د اوبو افراطي کارېدنه او د اوبو ناسم مدیریت یې هم مهم لامل دی. له بلې خوا ایران له افغانستان سره د اوبو تړون لري او دا چې اوسمهال د تړون تطبیق لپاره د معلوماتو د تبادلې او صادقانه ګامونو اوچتولو پر ځای سیاسي فشارونو ته مخه کوي؛ افغان څېړونکي په دې اند دي، چې ایران له تړون څخه د زیاتو اوبو ترلاسه کولو په هڅه کې دی او وچکالۍ او اقلیمي بدلونونه هم په پام کې نه نیسي.

د ایران ترڅنګ، پاکستان هم د کابل سیند د اوبو په تړاو اندېښنه لري، چې د کابل سیند پر اوبو پلې کېدونکې پروژې به دغه هېواد ته د بهېدونکو اوبو کچه پام وړ راکمه کړي. دا چې له پاکستان سره د ګډو اوبو د وېش په اړه کوم تړون نشته دی او پاکستان هم د اوبو د ناسم مدیریت له کبله د اوبو له کمښت سره مخ دی، هڅه کوي چې د کابل سیند له حوزې د ورتلونکو اوبو د کمېدلو مخنیوی وکړي. د اوبو د برخې څېړونکي په دې باور دي، چې په افغانستان کې د پاکستان د لاسوهنو یو مهم لامل هم د ګډو اوبو په اړه د دغه هېواد اندېښنې دي، کوم څه چې په ټولو برخو کې یې د دواړو هېواوونو پر دوه‌اړخیزو اړیکو خورا منفي اغېزې ښندلې دي. په دې حوزه کې د اوبو د وېش تړون د نشتون اغېزو ته په کتلو سره، له پاکستان سره د اوبو د وېش په قضیه د خبرو اترو اړتیا ورځ تر بلې زیاتېږي. دا چې په دې حوزه کې د اوبو د وېش تړون نشته دی، د نړیوالو قوانینو له مخې پاکستان د تېر په څېر د ورغلو اوبو تمه نشي لرلی او په ورته وخت کې څېړنې ښيي، چې د کابل سیند په حوزه کې پراختیایي کارونه به هم د دغه سیند پر لاندېنۍ برخه کمې اغېزې ولري، ځکه په دې حوزه کې د ځمکو د خړوبولو وړتیا کمه او پراختیایي کارونه تر ډېره د برېښنا د تولید په موخه دي. له همدې کبله د پاکستان اوسنۍ اندېښنې هم تر ډېره پر ځای نه دي او د اوبو د وېش تړون بیا د دواړو هېوادونو په ګټه دی.

د هېواد شمال لوري ته پرتو هېوادونو سره که څه هم هغسې جدي ستونزې نشته، چې د هېواد پر سیاسي او امنیتي وضعیت هم اغېزې ولري؛ خو دا چې آمو حوزه په هېواد کې د اوبو له سترو سرچینو ګڼل کېږي او د کرنیزو موخو او د برېښنا د تولید لپاره لوړ پوتنشیل لري، په دې حوزه کې کمزورې پانګونه د اندېښنې وړ ده. د آمو حوزې له اوبو څخه د سمې ګټې اخیستنې یو لامل هم د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د اوبو د وېش ناحل شوې قضیه ده او د اوبو د تړون نشتون له کبله په دې حوزه کې پراختیایي کارونه، چې د منځنۍ اسیا هېوادونو ته د امو سیند پر بهېدونکو اوبو اغېزې ښندلی شي، د دغو هېوادونو له اندېښنو او مخالفت سره مخ کېږي.

که څه هم، د کابل سیند په حوزه کې له پاکستان سره او د آمو سیند په حوزه کې د منځنۍ اسیا له دریو هېوادونو سره د اوبو د وېش او تړونونو لاسلیک کولو لپاره فرصتونه شته دي؛ خو بیا هم د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د اوبو د حقوقو د ټاکلو په تړاو پرمختګ ته د پاکستان په پرتله ډېره خوشبیني شته ده؛ ځکه له دغو هېوادونو سره په سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې ګڼ شمېر توافقات او همکارۍ شته دي.

دا اندېښنې داسې مهال دي، چې په افغانستان کې د اوبو د کمښت ګواښ، د اوبو ناسم مدیریت او په تېرو څلورو لسیزو کې د اوبو لپاره د بنسټیز کار نشتون د دې لامل شوي، چې دا ګواښ نور هم جدي کړي. که څه هم څېړنې ښيي، چې که د اوبو د سرچینو پراختیا او مدیریت ته سمه پاملرنه وشي، د افغانستان في کس اوبو سرچینې بسنه کولی شي؛ خو اوسمهال د اوبو د مدیریت په برخه کې روان کارونه د شته اړتیاوو او ستونزو په پرتله ډېر کم دي.

د اوبو او انرژۍ وزارت چارواکي وایي، چې افغانستان د اوبو د مدیریت پنځه کلن پلان یې جوړ کړی او د ولسمشر له‌خوا تایید شوی هم دی؛ خو بیا هم په دې برخه کې کارونه خورا په سستۍ سره روان دي او په دې تړاو لا ډېرې فعالې ډیپلوماسۍ او جدي عملي کارونو ته اړتیا ده.

پای

## ولسمشر وايي، نولس کاله مخکې په افغانستان کې پنځه لوستي کسان نه وو!

مشتاق رحیم

داسې څوک به پیدا نه شي چې ورته وواېي چې تاته به معلوم نه وو، ولې چې په همدې مرکه کې دې ویلي چې پس له ۲۴ کلونو هېواد ته راستون شوی وې او لکه ستا د کابینې د یو شمېر چارواکو له کور دننه حالاتو خبر نه وې، د لوکل آفګنز(سیمه ییزو افغانانو) په اړه دې معلومات ناسم وو!

ولسمشره! هغه ۲۴ کاله چې تا یاد کړي، هغه مهال او له هغې د مخه افغانانو په لوږه، تنده، د راکټ ګولۍ او کلاشینکوف شپېلۍ مخې ته د مرګ په کومي کې هم قلم پاللو او هم یې کتاب ساتلو. نیمه ورځ به یې مزدوري کوله، د سړک په غاړه به یې درانه کارونه کول او نیمه ورځ به یې زدکړې کولې. دلته د حکومت په نه شتون کې سلګونو افغانانو د موسساتو په اډانه کې د همدې نیم او نیم کله تعلیم په مرسته د بې وزله ولس چوپړ کولو، د حکومت تشه یې ډکه کړې وه. دلته غلام فاروق وردګ چې له تاسره ناست دی او غلام فاروق صافي چې زه ورسره کېنم، غربي متخصصین د دوی د وړتیا په اعتراف په احترام ودرېدو ته مجبوره کړي وو. له معصوم ستانکزي پوښتنه وکړه، له حنیف اتمر پوښتنه وکړه، حال به درته ووايي!

جلالتماب ولسمشره! تا د شاعرانو خبره کړې، راځه چې ستا د مبالغې په مقابل کې ګستاخي وکړم او لږه مبالغه وکړم. تا ویلي چې له نن څخه ۱۹ کاله مخکې دلته پرته له یوه کس بل شاعر نه و. واوره! له نن نه ۱۹ کاله مخکې د نیوز انټرنېشنل ورځپاڼې د یکشنبې په پاڼو به زما په انګرېزي ژبه شعرونه خپرېدل. ته وایې، له نن نه ۱۹ کاله مخکې پښتو کې شاعر نه و، زه درته وایم چې له نن څخه ۱۹ کاله مخکې سلګونو افغانانو د پښتو ادب ډېوه په سوال او خیرات بله ساتله او زرګونه ځوانان یې د روزنې لاندې نیولي وو. یو شمېر هغه مشران نن تاته د افغاني، پښتو ادب او کلتور په اړه مشورې درکوي، ستا په شان د یوه مفکر سلاکاران دي!

ولسمشره! دلته لکونو ځوانانو پرته له دې چې پوه شي چې دا لوړې زده کړې به ورته ګټه وکړي کنه، د غربت او بدمرغۍ په تیارو کې د علم مشال روښانه ساتلی و. موږ هغه خلک یو چې د تېرې کلاس پوهنتونونو نه مو ورلډ کلاس کادرونه تولید کړي. آن که ستا په پیمانه یې درسره اندازه کړم او انګرېزي معیار وګرځوم، نو همدې خړو پړو افغانانو په همدې خړ پړ وطن کې له نن څخه ۱۹ کاله مخکې ستا د ویرجینیا او نیویارک مېشتو په اېکسنټ یا ګړدود انګرېزي ویل زده ول!

لطفاً د خپلې ناخبرۍ له کبله د دې وطن د زیارکښو پلرونو او میندو زیار او زحمت ته او زما په شان یتیمانو ته سپکاوی مه کوئ! موږ ۲۵ کاله مخکې هم سلګونه او زرګونه لوستي، بلکې ورلډ کلاس لوستي خلک درلودل او ۱۹ کاله مخکې هم او که بېخي معیار ټیټ کړم، نو ستا د تېرې او اوسنۍ کابینې د بعضو وزیرانو په سویه خو مو بېخي ډېر کسان درلودل. . .

وروستۍ خبره!

که دا هم درسره ومنم چې پس له ۱۹ کلونو مو لوستي خلک پیدا کړي، نو یوه مهرباني وکړئ، د دغه پرمختګ کرېډېټ ځان ته مه کشوئ. د دغه پرمختګ کرېډېټ لومړۍ ورلډ بېنک، یواېس اېډ، یو این، موسساتو، چیوننګ، ډاډ او فولبرایټ ته ځي او بیا پخواني ولسمشر کرزي ته. د کرېډېټ په ځای له دغه خلکو مننه وکړئ چې د حکومت چلولو لپاره یې خلک درته چمتو کړي. . .

# د جګړې ځپلي افغانستان روغتیايي سیستم له کرونا وبا سره څنګه مبارزه کوي؟

لیکنه: سکندر کرماني

په افغانستان کې د کرونا وېروس څه باندې ۳۰ زره ناروغان ثبت شوي، خو د اصلي شمېر زیاتوالي اندېښنې شته.

په افغانستان کې د کرونا وېروس څه باندې ۳۰ زره ناروغان ثبت شوي، خو اندېښنې شته چې اصلي شمېر به له دې ډېر وي.

د کرونا وېروس له خپرېدو سره سم د جګړه ځپلي افغانستان په روغتیايي سیستم کې شته درزونه هم برالا کېږي. د کابل یو اوسېدونکی احمدشاه وایي، مېرمن یې پر دغه ناروغۍ له اخته کېدو وروسته د درملنې لپاره د کابل یوه دولتي روغتون ته ولېږدوله، خو د بسترونو او نورو وسایلو د نشتوالي له کبله ډاکترانو ورته وویل چې کور کې یې درملنه وکړي.

نوموړی وایي، مېرمن یې په ساه لنډۍ اخته وه، خو په خبره یې:

«یوه راته ویل، که رښتیا درباندې ګرانه وي، لطفاً کور کې یې درملنه وکړئ.»

ده په خپلو پیسو اکسیجن او ماسک را پیدا کړل، خو د تقاضا ډېرېدو له کبله دغه وسایل هم په سختۍ موندل کېږي یا یې بیې لوړې شوې، چې ان تر ۲۰۰ ډالرو پورې رسېدلې دي.

احمدشاه وایي: «اوس د اکسېجن موندل اسان کار نه دی، نه یوازې ګران دي، بلکې په کمپنۍ کې یې باید څوک وپېژنې چې ترې یې وپېرې.»

روغتیاپال وایي، د جګړه ځپلي هېواد له مخکې کمزوری روغتیايي سیستم د کرونا وبا له نوې ستونزې سره لاس او ګرېوان دی.

حکومتي روغتونونو ته د اکسېجن او نورو تجهیزاتو رسېدو په لړ کې هم اندېښنې ډېرې شوې.

په کابل کې یو ډاکتر وایي، د جدي پاملرنې څانګې ته د اکسېجن له رسولو مخکې د ناروغانو خپلوان «پر اکسېجن شخړې» کوي.

د کرونا افغان ناروغان د اکسېجن لږوالي له ستونزې سره لاس او ګرېوان دي

د روغتیا نړیوال سازمان استازي ډاکتر ریک پیپرکورن په خبره، د معایناتو کموالی ښیي چې په هېواد کې د رسمي شمېرو په پرتله ښايي د کرونا ناروغانو شمېر زیات وي.

تر اوسه د نږدې ۳۱ زره ناروغانو نمونه ثبت شوي دي، چې د ټولو معاینه شویو کسانو نیمايي شمېر دی او دا په نړۍ کې له خورا لوړو کچو یوه ده.

ډاکتر پیپریکورن وایي، په «راتلونکو میاشتو» کې به د معایناتو لابراتوارونو شمېر له ۱۱ نه ۲۱ ته زیات شي او د اړینو الاتو او تجهیزاتو لپاره به د لا زیاتې «نړیوالې همغږۍ» غوښتنه وکړي.

بل لور ته یوه ډاکتر چې مخکې یې په یوه دولتي روغتون کې دنده درلوده، د نوم نه څرګندولو په شرط په هغو روغتونونو کې د پرسونل د سخت کمښت خبره وکړه:

«یوه شپه هلته څکه ډېر ناروغان مړه شول، چې د پالنې او درملنې لپاره یې روغتیاپال نه وو.»

نوموړی زیاتوي، د ناروغانو خپلوانو د غوسې له کبله د روغتون دروازې او کړکۍ مات کړل.

دغه ډاکټر چې اوس په یوه شخصي روغتون کې دنده لري وایي، ځینې ناروغان له هغه ځایه په شخصي روغتونونو کې د درملنې لپاره ولېږل شول:

«د درملنې پر معیار بې باوره وو، ویل یې هر څومره پیسې چې غواړې درکوو یې، خو زموږ ناروغان بستر کړئ.»

خو نوموړی زیاتوي، ځینې شخصي روغتونونه هم د کافي بسترونو نه درلودو له کبله ځینې ناروغان نه بستر کوي.

یو بل ډاکتر وایي، ان د ځینو شخصي روغتونونو کارکوونکي نه شي کولای په دې روغتونونو کې خپلو خپلوانو ته د درملنې لپاره ځای ومومي.

په ځایي رسنیو کې د کرونا وېروس د درملنې په تړاو د فساد رپوټونه هم خپرېږي، چې له کبله یې غوسه په ډېرېدو ده.

چارواکي د پژواک خبري اژانس د یوه رپوټ په هکله هم څېړنه کوي چې وایي، د عامې روغتیا له وزارته د مصنوعي تنفس ۳۲ ماشینونه غلا شوي او د پلور لپاره پاکستان ته قاچاق شوي دي. په یوه بله قضیه کې د روغتیا اداري یوه کارکوونکي په هکله ویل کېږي چې د روغتیايي تجهیزاتو او الاتو له یوې کمپنۍ سره د هوکړې لاسلیک په بدل کې د ۸۰ زره ډالره رشوت غوښتنې په تور نیول شوی.

د ځایي رسنیو په رپوټونو کې ویل کېږي چې د روغتیا وزارت پر چارواکو د بډو اخیستو تورونه هم پورې شوي.

په ورته مهال په افغانستان کې د کرونا وېروس ناروغانو کمېره شمېر معلومول هم ګران دي.

د کابل یو ډاکټر وایي، د روغتیايي سیستم «کم ظرفیت» له کبله ښايي د ناروغانو شمېر کچه له تصور زیاته وي، څکه د مړو د کفن-دفن شمېرې لوړې ښکاري.

د هېواد په سویل کندهار کې یو ډاکتر بیا د شخصي معلوماتو پر بنسټ وایي، د مړو کسانو شمېر په ډېرېدو دی.

دی د فېسبوک معلومات بېلګه یادوي: «مثلاً، هره ورځ پر فېسبوکپاڼه وینو چې د لا ډېر شمېر خلکو د مړه کېدو خبرې کېږي.»

نوموړی زیاتوي، په ډېری مواردو کې د مړینې سبب «محرقه» یا «نامعلوم» لامل یادېږي، خو په خبره یې، دی «سل په سلو کې باوري دی چې دغه مړینې د کرونا له کبله کېږي.»

دغه ډاکټر چې معمولاً د جګړې ناروغانو درملنه کوي، وایي، د کلونو کړکېچ او جګړې د ځینو خلکو له زړونو د مرګ وېره اېستلې ده چې دوی یې د «خدای رضا» بولي.

د کرونا وېروس له کبله د هغو اغېزو په هکله هم اندېښنې په ډېرېدو دي چې د نورو ناروغیو د درملنې په لړ کې رامنځ ته کېږي او بل لور ته د ببوزلۍ کچه ورسره لوړېږي.

افغانستان د نړۍ له یوازې دوو هېوادونو یو دی چې پولیو یا ګوزڼ ناروغي اوس هم پکې شته، خو د واکسین کمپاین یې ځنډول شوی.

په دې وروستیو میاشتو کې په ځینو هغو ولایتونو کې هم د ګوزڼ ناروغان معلوم شوي چې مخکې پکې نه وو.

د ډبلیو اېچ او ډاکتر پیپرکورن د ببلګې په توګه بي بي سي سره خبرو کې د مور او ماشوم مړینې کچه کې کموالی یاد کړ، چې په خبره یې، په تېره لسیزه کې په دې برخه کې (یو څه) پرمختګ شوی او باید د اقتصادي ضعف او یا پر روغتیايي سیستم د بې باورۍ ډېرېدو له کبله دغسې پرمختګونه بېرته له منځه لاړ نه شي.

د هغو ډاکترانو لپاره چې په لومړي کتار کې پر مبارزه بوخت دي، هغه وسایل او تجهیزات لومړیتوب لري چې دوی یې د کرونا ناروغانو د درملنې لپاره کاروي.

د ډبلیو اېچ او دې برخې مسوولین وایي، د پنځو میلیونو امریکايي ډالرو په ارزښت طبي وسایل چې سملاسي ورته اړتیا لري، تر اوسه چمتو شوي دي او د ۱۷ میلیونو ډالرو په ارزښت نور وسایل او تجهیزات چمتو کېږي.

په لوېدیځ هرات کې یو ډاکتر وایي:

«ډېره د خواشینۍ خبره ده چې زموږ خپل خلک زموږ پر وړاندې مري. موږ هم هغسې ډاکټران یو لکه د نړۍ په نورو برخو کې چې دي، خو موږ نه بسترونه لرو، نه هم د اړتیا وړ شمېر کسان او نه هم وسایل.»

# تر سولې وروسته افغانستان؛

## خلیلزاد او طالبانو پر راتلونکو بنسټیزو او پراختیايي پروژو خبرې کړې دي



د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد دا ځل په خپل سفر کې یوازې پر سوله نه، بلکې د افغانستان د راتلونکي پرمختګ په اړه هم بحث کړی دی. زلمي خلیلزاد لومړی د منځنۍ اسیا د هېوادونو په غونډه کې ګډون وکړ، بیا پاکستان ته لاړ او له هغه ځایه دوحې ته لاړ. په دې سفرونو کې د امریکا د پراختیايي او پانګونې د برخې متخصصینو او مسوولینو هم له خلیلزاد سره ملتیا کوله.

نوموړي د قطر، منځنۍ اسیا هېوادونو او پاکستان دا ژمنه هم ترلاسه کړې چې له افغانستان سره د پراختیا او اقتصادي ودې په برخه کې به همکاري کوي.

زلمي خلیلزاد د افغان سولې او تر سولې وروسته د افغانستان د پرمختګ لپاره یو بل سفر هم څو هېوادونو ته وکړ. تر اوسه دغه سفر روان دی او په هغه کې یې د افغان سولې لپاره د ملاتړ د جلبولو ترڅنګ د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان پر اقتصادي وده او پرمختګ هم خبرې کړې دي. په دې لړ کې تر هر څه وړاندې د مرکزي اسیا هېوادونو په یوه غونډه کې ګډون وکړ. دغه غونډه د سي۱+۵ نومېږي او په هغه کې د منځنۍ اسیا د هېوادنو راتلونکې اړیکې او اوسنی وضعیت ارزول کېږي.

له خلیلزاد سره په دې غونډه کې د امریکا د انکشافي او پانګوالۍ د برخې متخصصینو او مسوولینو ګډون کړی و او دوی په دې سفر کې په منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا او افغانستان کې د پانګه‌والۍ او اوږدمهاله بنسټیزو پروژو فرصتونه ارزول. خلیلزاد په دې سفر کې د منځنۍ اسیا د هېوادونو له بهرنیو چارو وزیرانو وغوښتل چې خپل یووالی حفظ کړي او تر څنګ یې له افغانستان سره په دایمي پرمختګ او اقتصادي وده کې مرسته وکړي. د خلیلزاد په خبره، امریکا په سیمه کې د اوږدمهاله او بنسټیزو پروژو ملاتړه ده او په دې لټه کې ده چې تر سولې وروسته افغانستان ته د انکشاف فرصتونه برابر کړي.

د منځنۍ اسیا هېوادونو په دې غونډه کې ژمنه کړې چې له افغانستان سره به تر هر څه وړاندې د سولې په راتګ او تر هغه وروسته د اقتصادي ودې او پراختیا په برخه کې همکاري کوي. خلیلزاد هم ویلي وو چې دی یې له دې سفر خوښ دی او یادو هېوادونو استازو ته یې ویلي چې د افغانستان ثبات د ټولې سیمې په ګټه دی او دا مسئله به منځنۍ او جنوبي اسیا سره ونښلوي.

تر منځنۍ اسیا وروسته خلیلزاد پاکستان ته په سفر لاړ او هلته یې له پاکستاني چارواکو سره پر مهمو مسایلو خبرې وکړې. له پاکستان یې هم غوښتي چې د سولې په پروسه کې همکاري ډېره کړي او تر څنګ یې دې د افغانستان په دایمي پرمختګ او اقتصادي وده کې همکاري وکړي. پاکستاني لوري هم ویلي چې دوی له افغانستان سره د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو د پراختیا په لټه کې دي.

خلیلزاد تر پاکستان وروسته په دوحه کې له طالبانو او همدا راز له قطري چارواکو سره د افغانستان پر سولې او تر سولې وروسته په اقتصادي فعالیتونو او پراختیايي چارو خبرې کړې دي. د راپورونو له مخې، د امریکا د پراختیايي اداري مالي مسوول په دې سفر کې له طالبانو سره خبرې کړې او پر هغو پلانونو یې ورسره د نظر تبادله کړې چې تر سولې وروسته د افغانستان لپاره جوړ شوي دي. طالبانو ویلي چې دوی په افغانستان کې له اقتصادي او بنسټیزو پروژو ملاتړ کوي او په دې برخه کې همکارۍ ته تیار دي.

د دې تر څنګ خلیلزاد په دوحه کې له قطري چارواکو سره هم د افغانستان پر سولې او بنسټیزو پروژو خبرې کړې دي. خلیلزاد له دغه هېواد غوښتي چې په افغانستان کې د پانګه‌والۍ ګڼ فرصتونه موجود دي، نو قطر دې د افغانستان د ودې او په دغه هېواد کې د کار او روزګار په پیدا کولو کې خپلې همکارۍ ډېرې کړي. قطر هم په دې برخه کې د مرستو ډاډ ورکړی دی.

# <u>تازه شمېرې:</u> په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر ۵۳۰ زره او ۹۶۰ کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له ۱۱.۲ میلیونو اوښتی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۵۳۰ زره او ۹۶۰ کسان مړه شوي او نږدې شپږ نیم میلیونه بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس امریکا لاهم د کرونا ویروس د زیاتو مثبتو پېښو او قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ټولې مثبتې پېښې نږدې درې میلیونو ته رسېدلې او ۱۳۲ زره او ۲۰۹ نور امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي. له امریکا وروسته برازیل، روسیه، هند او هسپانیا په ترتیب سره دویم، درېیم، څلورم او پنځم هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان ویلي چې د کروناویروس پېښې ورځ تر بلې زیاتېږي او د نړۍ په ځینو برخو کې بیا محدودیتونه لګول شوي چې د دغه ویروس د ډېرې خپرېدا مخه ونیول شي. رویټرز خبري اژانس ویلي چې په اسیا کې د نړۍ د کروناویروس ۱۲ سلنه او په منځني ختیځ کې نهه سلنه پېښې ثبت شوې دي. له دې سره سره، بیا هم ډاکټران او د روغتیا برخې متخصصین وایي چې په ډېرو هېوادونو کې ښايي په کرونا د اخته کسانو شمېر تر هغه ډېر وي چې اعلانېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا په ځینو ایالتونو کې د کروناویروس پېښې زیاتې شوې، شراب خانې او سمندرغاړې بیا تړل شوي او نوي محدودیتونه لګول شوي دي.

بلخوا د نیوزیلنډ د روغتیا وزیر ډیویډ کلارک د کروناویرس د کرنتین د محدودیتونو د ماتولو له کبله استعفا کړې ده. پر کلارک نیوکې وې چې د کروناویروس له کبله د کرنتین او لګول شویو محدودیتونو پر مهال یې خپله کورنۍ د سیاحت لپاره د سمندر غاړې ته بیولې او نیوزیلنډ ته یې د بهرنیانو د راتګ په اړه اصول نه دي مراعت کړي.

په دغه هېواد کې د کروناویروس د پېښو په خپرېدو سره هلته کرنتین اعلان شو او خلکو ته وویل شول چې له کورونو دې نه راوځي. چارواکي وایي، دغه کار د کروناویروس په مخنیوي کې ډېره مرسته وکړه.

د نیوزلنډ حکومت اعلان کړی و چې په بېړنیو او ځانګړو حالاتو کې که کوم بهرنی نیوزیلنډ ته راځي، باید له نورو جلا وساتل شي او ښه معاینه شي چې په کروناویروس اخته نه وي.

د نیوزیلنډ لومړۍ وزیرې جسیندرا اردرن د روغتیا د وزیر له استعفا وروسته ویلي چې دا ډېره مهمه ده هغه خلک چې د کروناویروس د مخنیوي مسوولیت لري، باید د ولس باور او اعتبار له ځان سره ولري.


## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي.
### دیارلسم څپرکی




**د زیات پرمختګ لپاره د اطلاعاتو او معلوماتو اړین توکي**

د زیاتولو د راز په اړه د جان خبرې په بل ډول هم واضح کولای شو. ستاسو د تجارت وړتیا د هغه په توازن کې ده. متوازن تجارت څه شی دی؟ متوازن تجارت یانې هغه تجارت چې په هر حالت کې دوام ولري.

د تشبث ناکامي او کامیابي هم له همدې خبرې څخه ده. په نړۍ کې ډېر داسې خلک شته چې غواړي متشبث واوسي. له نېکه مرغه، په دې کار کې بریالي هم شي او لوی تجارتونه رامنځته کړي؛ خو تر کومه وخته چې د دوی تجارتونه کوچني وي، نو د تجارت ټولې چارې یې په خپل لاس کې وي. خو زیات متشبثین د خپل تجارت پرمختګ او څو برابره کولو ته وخت نه ورکوي، بلکې یوازې موجوده تجارت ته ادامه ورکوي.

د مک ډونالډ په بریالیتوب کې د «رای کراک» د بري یو راز همدا و چې دی د خپلو رستورانتونو د اداري لپاره په وړتیا او کارپوه خلکو پسې نه ګرځېده، بلکې خلک یې په کار کې روزل او مسلکي کول.

د شبکه یي بازارموندنې ځیرک شرکتونه کټ مټ دغه کار کوي. د دې پر ځای چې تکړه او مسلکي ویناوال، وړاندې کوونکي او پلورونکي وګوماري، د ابزارو او توکو په توګه اطلاعات او معلومات په خپل لاس کې اخلي او ځان پېژندنه پرې کوي. خو لکه څنګه چې «جان» وایي، د اطلاعاتو او معلوماتو دا سیستم په یوه شپه نشي جوړېدلای.

جان: د شبکه یي بازارموندنې په لومړیو کې هرڅوک له ستونزو سره مخ وو. دا سمه ده چې هر څوک یو شرکت رامنځته کولای ش؛ خو دا به منو چې هرڅوک نشي کولای په اغېزناکه او ګټوره توګه یو شرکت رامنځته کړي. یانې له نظري اړخه ویلای شو چې هر څوک په دې تجارت کې بریالي کېدای ش؛ خو د عمل په میدان کې یې بیا مزه نه وي.

دې تجارت په لومړیو کې پر هغو کسانو تکیه کوله چې د پریزنټېشن (پېژندنې) ښه مهارتونه یې درلودل او د ښې پېژندنې او پریزینټېشن وړاندې کول د دې تجارت د زده کړې یوه لویه برخه ګرځېدلې وه. خو ډېرو کمو خلکو له ستونزې پرته او په مسلکي توګه خپل کنفرانس وړاندې کولی شوای. په همدې خاطر د دې تجارت د پرمختګ پر لاره محدودیتونه پراته وو.

رابرټ: همدا خبره ده چې د کنفرانس وړاندې کولو توکي اړین دي.

جان: بلکل همداسې ده. کلونه وړاندې خلکو د خپل تجارت پېژندنه د بروشور، کتالوګ او کتابو په مرسته کوله. تر یو ځایه پورې دا لاره بریالۍ هم وه. کوم خلک چې خپل تجارت د کنفرانس او پریزینټېشن په مرسته نشي راپېژندلای، کولای شي نورو خلکو ته د خپل تجارت د ور پېژندلو لپاره له بروشور، کتالوګ یا کتابو څخه کار واخلي؛ خو بروشور او کتالوګ په یوازې ځان دومره اغېزناک نشي واقع کېدای څومره چې په ژوندۍ بڼه کنفرانسونه د خلکو توجه را جذبوي. ((زموږ په هېواد کې د تجارت د بازارموندنې لپاره یوازې د راډیو او تلویزیون له اعلاناتو څخه کار اخیستل کېږي، بروشور او کتالوګ ډېرکم رواج دی او کنفرانسونه او پریزینټېشنونه خو بیخي نشته: ژباړن))

د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې د کنفرانس په وړاندې کولو کې خورا لوی بدلونونه راغلي دي. د ډیجیټل ټکنالوژۍ انقلاب د CD, DVD او انټرنیټ په مرسته د ژوندیو کنفرانسونو جوړولو ته پاملرنه نوره هم زیاته کړه.

رابرټ! د دې کتاب نوم «د یوویشتمې پېړۍ تجارت» اېښودل خورا په زړه پورې کار دی. ځکه، که څه هم دا تجارت له څو لسیزو راهیسې روان دی؛ خو اوس ارزښتمن او پیاوړی شو او دا ده موږ یې په اړه خبرې کوو.

د شبکه یي بازارموندنې لپاره ښه ویناوال کېدل اړین نه دي. په حقیقت کې د دې لپاره هڅه کول ستاسو په تاوان تمامېدای شي. ځکه ویناوال کېدل یو ځانګړی مهارت دی، داسې مهارت چې زیاتوالی او پرمختګ یې تر ډېره سخت دی. د دې پر ځای چې د ښه ویناوال کېدو هڅه کوې یا غواړې ښه کنفرانس ورکړې، غوره دا ده چې تجارتي توکي دې د تجارت د پېژندنې لپاره وکاروې چې نور خلک دا کار ستا لپاره وکړي.

د تجارت دا توکي په دوو علتونو د لاسرسي وړ دي؛ یو د شرکتونو د ګټې په خاطر او بل ټکنالوژۍ اوس دا هر څه اسانه کړي دي. کم مصرفه او ښه کیفیت لرونکو سي ډي ګانو، ډي وي ډي ګانو او انلاین کنفرانسونو - چې زیاتره یې غږیز او تصویري دي - د شبکه یي بازارموندنې د خوبونو او هیلو رښتیا کول او پرمختګ خورا اسانه کړي دي.

ایا پوهېږئ چې پورته خبره څه مانا لري؟ یانې کله چې د شبکه یي بازارموندنې تجارت رامنځته کوې، په حقیقت کې یوه پراخېدونکې شتمني رامنځته کوې. په ساده ژبه به داسې ووایم، څومره چې غواړې، هومره خپل تجارت غټولای شې.

رابرټ: جانه! پر دې تجارت له شک کوونکو څخه مې اورېدلي چې وایي: «که د دې تجارت لپاره ښه پلورنکی، ښه ویناوال او ښه کنفرانس ورکوونکی اړین نه وي، نو ته څه کار کوې؟ شرکت ولې باید تا ته اړتیا ولري؟»

جان: تا ته اړتیا شته. ځکه ته شبکه جوړوونکی یې. په همدې خاطر یې شبکه یي بازارموندنه بولي. په همدې خاطر تا ته اړتیا لري او په همدې خاطر پیسې درکوي. **دوام لري...**

# شمال د لوړو زده کړو موسسه

◄ حمیدالله حمیدي



شمال د لوړو زده کړو خصوصي موسسه په کندوز ولایت کې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ تاسیس شوې ده، خو له تاسیس سره سم یې فعالیت نه دی پیل کړی. د لوړو زده کړو د دې موسسې رییس ښاغلی محمد اسماعیل بشرمل وایي، چې رسمي چارې یې په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د دوو پوهنځیو (حقوقو او قتصاد) په درلودلو سره پیل کړې دي. ښاغلی بشرمل وایي چې حقوقو پوهنځی یې دوه ډیپارټمنټونه ( قضا او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي) او اقتصاد پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه لري. په شمال د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې اوسمهال ۴۷۸ محصلین پر زده کړو بوخت دي چې له دې ډلې دېرش سلنه یې ښځینه او پاتې نور یې نارینه محصلین دي.

د شمال د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، تېر کال یې له دواړو فعالو پوهنځیو څخه لومړۍ دوره محصلین د لېسانس په کچه فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړل. ښاغلی بشرمل وایي، تېر کال یې له حقوقو پوهنځي څخه ۱۴ او له اقتصاد پوهنځي بیا ۲۲ تنه فارغ کړل. دی وایي، یوه میاشت وروسته به خپل دویمه دوره محصلین هم چې د ټولو شمېر ۷۶ ته رسېږي ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي. بشرمل زیاتوي چې په تېر کال کې فارغ شوي محصلین یې خپله د کندوز ولایت او یا هم د هېواد په نورو ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر کار بوخت دي او خپل هېواد ته خدمت کوي. نوموړی وایي، هڅه یې دا ده چې پر کار پوه او تجربه لرونکي کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي. دغه موسسه تر اوسه پورې د ماسترۍ کوم پروګرام نه لري، ځکه د ښاغلي محمد اسماعیل بشرمل په خبره چې ماسترې خپل ځانګړې معیارونه او مراحل لري، چې دوی تر اوسه نه دي پوره کړي.

شمال د لوړو زده کړو خصوصي موسسه د لوړو زده کړو وزارت په ټولو معیارونو برابره پنځه پوړیزه ودانۍ لري، چې په کلنۍ ډول له پنځوسو د زیاتو نویو محصلینو د جذب وړتیا لري. خو ښاغلی محمد اسماعیل بشرمل وایي، اوسمهال په کلنۍ ډول د ۲۰۰ په شاوخوا کې محصلین جذبوي. تر ډېره د نویو محصلینو جذب د هېوا په اقتصادي او امنیتي وضعیت پورې تړلې خبره ده. هغه کسان چې اقتصادي وضعیت یې ښه وي، که دولتي پوهنتونونو ته جذب نه شي، نو بیا کولای شي په خپل شخصي لګښت په خصوصي پوهنتونونو کې لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي.

شمال د لوړو زده کړو موسسه د تخفیف څلور کټه‌ګورۍ لري. ښاغلی بشرمل وایي، هغه محصلین چې په ښوونځي کې یې نمرې له اتیا سلنه لوړې وي، ځانګړی تخفیف ورته ورکوي، هغه کسان چې اقتصادي وضعیت یې ښه نه وي، خو له دې سره سره غواړي زده کړو ته دوام ورکړي، د شمال د لوړو زده کړو موسسې اداره ورته مناسب تخفیف ورکوي، د ملي امنیت، ملي پولیسو او ملي اردو د کورنۍ غړو لپاره او تر څنګ یې د شهیدانو او معلولینو د ورثه‌وو لپاره هم مناسب تخفیف ورکوي، څو وکړای شي چې په لږ لګښت سره لوړې زده کړې وکړي او د هېواد په ابادۍ کې برخه واخلي. د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د ورځې دوه وخته تدریس کېږي.

د شمال د لوړو زده کړو موسسې اداري په دغه موسسه کې کتابتون ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده. ښاغلی محمد اسماعیل بشرمل وایي چې هم فزیکي او هم ډیجیټالي کتابتون لري. دی وایي، د زرو ټوکو په شاوخوا کې د پوهنځیو اړوند او نور علمي کتابونه یې په فزیکي ډول د محصلینو په واک کې ورکړي دي. دی وایي، محصلین کولای شي وخت ناوخت له دې کتابتون څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي. تر څنګ یې ډیجیټالي کتابتون هم لري چې په دې کتابتون کې یې هم ډېر علمي کتابونه د مطالعې او څېړنې لپاره ځای پر ځای کړي دي، چې محصلین کولای شي د کتابونو د مطالعې تر څنګ د دوی له کمپیوټرلب څخه هم ګټه واخلي.

ښاغلی بشرمل وایي چې په کور د ننه له ټولو پوهنتونونو سره ښې او نیکې اړیکې لري او له ځینو پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې هم لري. دی وایي، اوس تازه یې هڅه پیل کړې ده چې د ځینو مراحلو تر تېرولو وروسته د تاجکستان له ملي پوهنتون سره د علمي اړیکو یوه هوکړه لاسلیک کړي، چې له مخې به یې خپل استادان او فارغ شوي محصلین د ماسترۍ او نورو لوړو زده کړو لپاره دغه پوهنتون ته ور معرفي کوي. په شمال د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې د تدریس چارې د ۲۹ تجربه لرونکو او متخصصو استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي چې په دې ډله کې ۹ تنه د ماسترۍ او پاتې نور بیا د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. نوموړی وایي، دا چې په کندوز کې د ښځینه استادانو شمېر یو څه کم دی، خو بیا هم دوی هڅه کړې ده چې تر یوې کچې پورې هغه جنډر مراعات کړي او په پام کې ونیسي، نو د نارینه استادانو تر څنګ پنځه ښځینه استادني هم په شمال د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې مخ ته وړي.

د شمال د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، تېر کال یې چې کوم محصلین فارغ کړي، هغوی چې خپل مونوګرافونه یې دفاع کړي دي، تحصلي اسنادونه یې ورته سپارلي. دی وایي، تر اوسه پورې دوی ته د لوړو زده کړو وزارت له لوري ډیپلومونه نه دي ورکړل شوي، نو یوازې هغه تصدیق پاڼې چې فارمټ یې خپله لوړو زده کړو وزارت جوړکړې، د همدې وزارت او د دوی د موسسې د اداري په تاییدۍ فارغ شویو محصلینو ته ورکړې دي. دی وایي، محصلین یې کولای شي له دې تصدیق پاڼو څخه د دندې په پیدا کولو او دغه راز په نورو کورنیو او بهرنیو پوهنتونونو کې د ماسترۍ پروګرام د پیلولو لپاره ګټه واخلي. د شمال د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د وړتیا لوړولو لپاره وخت ناوخت علمي سمینارونه او کنفرانسونه هم دایروي. ښاغلی بشرمل وایي چې استادان یې هڅه کوي څو په میاشتنې ډول د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو لپاره علمي سمینارونه برابر او وړاندې کړي. دی وایي، د حقوقي کلینیک چارې یې هم روانې دي چې ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي او د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی محصلینو ته به پکې عملي زده کړې پیل شي.

اړتیا ته په کتو د ښوونې او روزنې پوهنځي ایجادول، د حقوقي کلینیک فعالول، استادانو او محصلینو ته د وړتیاوو لوړولو او تجربو تر لاسه کولو لپاره زمینه برابرول، په کندوز ولایت کې دولتي او خصوصي بانکونو ته د عملي زده کړو لپاره د اقتصاد پوهنځي د محصلینو ور معرفي کول او په دې برخه کې له دې بانکونو سره د هوکړو لاسلیک کول او د عملي زده کړو په موخه په کندوز ولایت کې عدلي او قضایي څانګو ته د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د محصلینو ور معرفي کول د شمال د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي.

په کندوز کې ډېری اکاډمیک بنسټونه په تېره بیا د خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو مسوولین له ناامنۍ سر ټکوي. ښاغلی بشرمل هم وایي چې ناامني د دوی اساسي ستونزه ده، چې په ځانګړې توګه امنیتي اداري په دغه ولایت کې خصوصي پوهنتونونو یا موسسو ته ډېر پاملرنه نه کوي.

د شمال د لوړو زده کړو موسسې رییس له افغان حکومت او په ځانګړې توګه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د خصوصي پوهنتونونو د پرمختګ او په پښو درېدو لپاره زمینه برابره کړي. دی وایي، د حکومت اړونده اداري دې د خصوصي پوهنتونونو فارغېدونکو محصلینو لپاره په دولتي ادارو کې د عملي کار زمینه برابره کړې، څو تجربې تر لاسه کړي او په راتلونکې کې د هېواد د خدمت جوګه شي. دی د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین پروګرام ستایي او وایي چې په دې سره به هغه خصوصي پوهنتونونه چې په رښتیا هم د هېواد د ابادۍ لپاره کار کوي او په هغو معیارونو چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري ورته ټاکل شوي عمل کوي له هغو پوهنتونونو بېل شي، چې موخه یې یوازې د پیسو ګټل او یا هم د خصوصي پوهنتونونو بدنامول دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ٤٦٠ |
| ₹ | ۹۸۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹٤ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# پیشگیری از خستگی چشم و حفظ سلامت چشم‌ها

ترجمه: امین همتی

احتمالا برای شما هم پیش آمده است که پس از یک روز کاری طولانی و نگاه‌کردن مداوم به صفحه نمایشگر رایانه و خواندن اسناد و مدارک مختلف، علائمی مثل سوزش، خارش یا خستگی چشم را داشته باشید. خوشبختانه این علائم بسیار رایج هستند و خبر از ناراحتی یا اختلال جدی‌تری نمی‌دهند. خبر خوب دیگر این است که با به‌کارگیری چند راهکار ساده و توصیه‌هایی می‌توانید حال چشمانتان را بهتر کنید و از شدت علائم یادشده کم کنید. در ادامه مطلب، شما را با نکاتی کاربردی برای پیشگیری از خستگی چشم آشنا می‌کنیم. کمی هم از علل و علائم آن خواهیم گفت تا درک بهتری از تفاوت خستگی چشم با بیماری ها و اختلال‌های چشمی دیگر پیدا کنید و بتوانید آن را تشخیص دهید.

**علت خستگی چشم چیست؟**

هر فعالیتی که به استفاده دائمی از چشم‌ها نیاز داشته باشد، می‌تواند باعث خستگی آنها شود. برخی از مهم‌ترین این فعالیت‌ها اینها هستند:

مطالعه؛

نوشتن؛

رانندگی.

نگاه‌کردن به نور بیش از حد درخشان و صرف مدت‌زمانی در محیط تاریک، دو علت دیگر خستگی چشم هستند.

**خودداری از نگاه‌کردن به نور بسیار درخشان برای پیشگیری از خستگی چشم**

اگر برای مدت‌زمانی طولانی به صفحه نمایشگر رایانه، کنسول بازی یا موبایل هوشمند خود نگاه کنید، احتمال بروز خستگی چشم بسیار زیاد خواهد بود. «سندرم بینایی ناشی از رایانه (CVS)» یا «خستگی چشم دیجیتالی» نامی است که متخصصان بر این نوع خستگی چشم گذاشته‌اند. بیشتر کسانی‌که بناء به دلایل کاری یا شخصی مجبور به نگاه‌کردن طولانی‌مدت به صفحه نمایشگر دستگاه‌های دیجیتالی هستند، با این نوع خستگی چشم سروکار دارند. بر اساس برخی از تخمین‌ها، دلیل مراجعه بسیاری از افراد به چشم‌پزشکی، داشتن علائم ناراحتی‌های چشمی ناشی از نگاه‌کردن به رایانه است.

به‌خاطر استفاده روزافزون از موبایل‌های هوشمند و دیگر دستگاه‌های دیجیتالی کوچک، انتظار می‌رود که در آینده تعداد این مراجعان بیشتر شود. استفاده از این دستگاه‌های دیجیتالی فشار بیشتری به چشم‌ها وارد می‌کند، چون کلمات و اطلاعات با اندازه ریزتری در آنها نمایش داده می‌شوند.

علت دیگری که خستگی چشم را به استفاده از دستگاه‌های دیجیتالی مرتبط می‌کند، کاهش تعداد دفعات پلک‌زدن هنگام نگاه‌کردن به صفحه نمایشگر رایانه‌ها است. تعداد دفعات پلک‌زدن، در حالت معمول، چیزی حدود ۱۸ بار در دقیقه است. پلک‌زدن راهکار طبیعی بدن برای رفع خستگی و کاهش فشار وارد شده بر چشم‌ها است. بر اساس نتایج برخی از مطالعات انجام‌شده، هنگام نگاه‌کردن به صفحه نمایشگر رایانه‌ها و دستگاه‌های دیجیتالی دیگر، تعداد دفعات پلک‌زدن تقریباً تا ۹ بار در دقیقه کاهش پیدا می‌کند (نصف حالت طبیعی). این مسئله می‌تواند باعث خشکی چشم، خستگی، خارش و سوزش چشم‌ها شود.

**علائم خستگی چشم**

علائم و نشانه‌های رایج خستگی چشم عبارت‌اند از:

درد و ناراحتی چشم‌ها؛

مشکل در تمرکز؛

خشکی یا آب‌ریزش چشم‌ها؛

تاری دید یا دوبینی؛

بیشترشدن حساسیت چشم‌ها به نور؛

درد گردن، درد شانه‌ها یا کمر.

این نشانه‌ها می‌توانند باعث تحت‌تأثیر قرارگرفتن فعالیت‌های کاری و کاهش بهره وری شوند. کارکردن و بیدارماندن برای ساعت‌های طولانی می‌تواند به شدیدترشدن نشانه‌ها دامن بزند. خوابیدن خستگی چشم‌ها را برطرف می‌کند و بدن در این حالت، مواد مغذی ضروری موردنیاز برای کارکرد طبیعی چشم‌ها را به آنها خواهد رساند. کاهش ساعت های خواب اوضاع خستگی چشم و ناراحتی‌های دیگر را بدتر می‌کند.

۱. صفحه نمایشگر رایانه را در فاصله تقریبی ۵۰ تا ٦۵ سانتی‌متری از چشمانتان قرار دهید. همچنین، بهتر است نمایشگر کمی پایین‌تر از ارتفاع چشم‌ها قرار گرفته باشد.

۲. برای آنکه اثری از جای انگشت یا گردوغبار روی نمایشگر نباشد، همیشه آن را تمیز نگه دارید. لکه‌های روی نمایشگر تابش و درخشندگی طبیعی نور آن را تحت‌تأثیر قرار می‌دهند که این اتفاق برای چشم‌ها خوب نیست.

۳. از نمایشگرهایی استفاده کنید که قابلیت چرخش به بالا و پایین و تنظیم شیب صفحه را داشته باشند.

۴. برای نمایشگرتان از فیلترهای مخصوص نور و روشنایی استفاده کنید.

۵. با تنظیم نور محیط کار، درخشندگی بیش از حد و انعکاس‌های شدید را به حداقل برسانید؛

٦. از صندلی‌هایی استفاده کنید که قابلیت تنظیم ارتفاع داشته باشند؛

۷. یک نگهدارنده مدارک تهیه کنید و کنار نمایشگر رایانه بگذارید.

۸. برای پیشگیری از خستگی چشم از قانون ۲۰ ـ ۲۰ ـ ۲۰ استفاده کنید. هر ۲۰ دقیقه یک بار، ۲۰ ثانیه را صرف نگاه‌کردن به شیئی در فاصله ۲۰فوتی (٦متری) کنید.

۹. برچسبی روی نمایشگر رایانه بزنید که روی آن عبارت «پلک‌زدن» نوشته شده باشد. از این برچسب به‌عنوان یادآور استفاده کنید تا تعداد دفعات پلک‌زدن را به‌حد طبیعی برسانید.

۱۰. گاه‌به‌گاهی نگاه‌کردن به نمایشگر رایانه را متوقف کنید و به چشمانتان استراحت بدهید.

۱۱. برای برطرف‌کردن خستگی چشم‌ها گاهی دستمال پارچه‌ای تمیزی را در آب گرم غوطه‌ور کنید و روی چشمانتان بگذارید (چشمانتان باید بسته باشد). این راهکار برای رفع خشکی چشم‌ها هم مناسب است.

۱۲. برای رفع خشکی و خستگی چشم از قطره استریل اشک مصنوعی استفاده کنید.

۱۳. برای پیشگیری از خستگی چشم و خشکی آنها در خانه، از دستگاه تهویه مناسب استفاده کنید (برای خارج‌کردن گردوغبار). استفاده از دستگاه رطوبت‌ساز در خانه، راهکار مناسب دیگری برای پیشگیری از خشکی چشم است.

اگر نکات و راهکارهای مطرح‌شده تأثیری در بهبود وضعیت چشم‌هایتان نداشتند، بهتر است به چشم‌پزشک مراجعه کنید. ممکن است علائم و نشانه‌های شما مربوط به اختلال یا ناراحتی چشمی جدی‌تری باشند که دراین‌صورت، هرچه زودتر به آن پی ببرید و روند درمان را شروع کنید، بهتر است. سردرد، ناراحتی چشم، دوبینی و تغییر فاحش در بینایی از جمله علائم و نشانه‌هایی هستند که مراجعه به چشم‌پزشک را ضروری می‌کنند.

**کلام آخر**

فراموش نکنید که خستگی چشم و ناراحتی آن مسئله رایجی است که بناء به ضرورت‌های کاری و دلایل دیگری مثل استفاده زیاد از دستگاه‌های دیجیتالی (که گاهی اجتناب‌ناپذیرند) ایجاد می‌شود. برای مراقبت از چشم های خودتان و حفظ سلامت چشم هایتان، از نکات و راهکارهایی که در این مطلب مطرح شدند استفاده کنید. درصورت داشتن علائم شدیدتر در بلندمدت، حتماً به متخصص چشم‌پزشک مراجعه کنید تا با انجام آزمایش‌های کامل، علت اصلی ناراحتی چشم‌ها مشخص شود.

## ناټو: په افغانستان کې روان تاوتریخوالی د سولې خبرې له ستونزو سره مخ کوي

په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي سټېفانو پونتیکو ویلي چې د وسله والو طالبانو لخوا د تاوتریخوالي دوام ورته د منلو نه دی. هغه ویلي، د طالبانو لخوا تاوتریخوالی باید کم شي چې په وینا یې، دوام یې د سولې خبرې له ستونزو سره مخ کوي.

پونتیکو چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو له عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر سره د افغانستان د وضعیت په اړه د بحث لپاره بروکسل ته تللی، وایي چې د ناټو له منشي ینس سټولټنبرګ او د دغه سازمان له نورو غړو سره یې د افغانستان د اوسني وضعیت په اړه خبرې کړې دي.

نوموړي په یوه ویډیویي پیغام کې ویلي: «د طالبانو لخوا د تاوتریخوالي دوام باید کم شي، دا د منلو نه دي. دغه [تاوتریخوالی] د سولې خبرو پیلېدو ته د رسېدو پر وړاندې خنډونه جوړوي.»

نوموړي دغه راز د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د بین الافغاني خبرو د ژر پیلېدو په اړه هم تمه ښودلې ده. په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي زیاته کړې چې د ناټو غړو له افغان سرتېرو څخه د ناټو د ملاتړ په اړه هم خبرې وکړې.

پر همدې مهال د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې په قطر کې یې د طالبانو د سیاسي دفتر له استازو سره د سولې بهیر ترڅنګ پر اقتصادي مسائلو هم خبرې کړې دي.

خلیلزاد پر خپل ټوېټر لیکلي چې په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر له مشر ملا عبدالغني برادر سره یې تر تلپاتې سولې وروسته د اقتصادي ودې په اړه خبرې کړې دي. خلیلزاد همدارنګه ټینګار کړی چې دواړه لوري باید د سولې پر وړاندې پراته خنډونه لرې کړي. هغه ویلي، چې ترهغې چې د سولې پر وړاندې پراته خنډونه له منځه ولاړ نه شي، د سولې په ملاتړ پراختیایي پروګرامونه به ژر پیل نه شي.

بلخوا وسله والو طالبانو هم په یوې اعلامیې کې ویلي چې قطر ته د زلمي خلیلزاد د سفر پرمهال د دغې ډلې سیاسي مرستیال ملا عبدالغني برادر له هغه سره د افغان سولې بهیر، بندیانو خلاصېدو، بین الافغاني مذاکراتو پیلېدو په اړه خبرې کړې دي.

خلیلزاد تر دې مخکې د ترکمنستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغیزستان او اذربایجان د بهرنیو چارو له وزیرانو سره هم د افغان سولې او اقتصادي مسائلو په اړه خبرې کړې وې.

## صالح: په هېواد کې د کرونا ویروس لیکې (منحني) ماتې شوې دي

د ولسمشرۍ ماڼۍ لومړی مرستیال او د کرونا ویروس سره د مبارزې کمېټې مشر امرالله صالح وایي، په هېواد کې د کرونا ویروس لیکې (منحني) ماتې شوې دي. نوموړي پر خپل ټوېټر لیکلي چې په افغانستان کې په روغتیایي سیستم او یوناني درملو کارولو سره یې له کرونا سره مبارزه وکړه.

هغه په دې اړه لیکلي چې په خپل کلي کې یې لسګونو ځوانان، د منځنۍ کچې خلک او عمر خوړلي کسان لیدلي او انګېرې چې هغوی ټولو کرونا ته ماتې ورکړې ده.صالح ویلي، له کرونا سره یې مبارزه د هېواد په روغتیایي سیستم او تر ډېره په لرغونو دودیزو یوناني درملو کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې نوموړي د تېرې غبرګولي میاشتې پر ۱۵ ویلي وو چې د کورنۍ نیمایي غړي او د دفتر نیمایي همکاران یې پر کرونا ویروس اخته شوي دي.

صالح د همدې میاشتې پر ۱۳مه هم ویلي وو، چې که افغانان وکولای شي د راتلونکې زمري میاشتې تر نیمایي پورې د کرونا ملا ماته کړي او په دغه ویروس د اخته کېدو شمېر را کم شي، ډېر احتمال شته چې د کال تر پایه افغانستان له دغه ویروس څخه خلاص شي.

د ولسمشر غني لومړی مرستیال او له کرونا ویروس سره د مبارزې کمېټې مشر امرالله صالح داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې د روغتیا وزارت د معلوماتو پر اساس، تر دې مهاله په ټول هېواد کې ۳۲٦۷۲ تنه پر کرونا ویروس اخته شوي او ۸۲٦ نور مړه شوي دي.

بلخوا وړمه شپه په اقتصاي او پراختیایي چارو او له فقر سره د مبارزې برخه کې د ولسمشر غني ځانګړي استازي محمد یوسف غضنفر هم د کرونا ویروس له امله ساه ورکړه.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د جولای پنځمه | ۵۶۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۳ | لمر ختل ۰٤:٤٦ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:٤۵ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۵

## نړۍ




## راپورونه: په سومالیا کې موټربم چاودنې اووه کسان وژلي او لسګونه نور یې ټپیان کړي دي

د راپورونو له مخې، د سومالیا د پلازمېنې موګادیشو له بندره بهر په یوه ځانمرګي برید کې د لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د دغه هېواد چارواکو ویلي چې ۷ تنه هغه مهال ووژل شول او لسګونه نور ټپیان شول چې پولیسو د ځانمرګي برید کوونکي پر یوه موټر ډزې وکړې.

د سومالیا د اطلاعاتو وزارت ویاند اسماعیل مختار ویلي، کله چې د ځانمرګي دا موټر د پولیسو له لومړۍ تالاشۍ په بېره تېر شو، دویمې ته په رسېدو پولیسو ډزې پرې وکړې او وچاودېد. د راپورونو له مخې، په دې چاودنه کې دوه پولیس او لسګونه ملکیان ټپیان شوي هم دي.

که څه هم د دې پېښې مسوولیت تر اوسه چا پر غاړه نه دی اخیستی، خو هلته له دې وړاندې له القاعده شبکې سره تړلې الشباب وسله والې ډلې ورته بریدونه کړي دي.

دغه ډله څو کاله مخکې له موګادیشو وشړل شوه، خو دوی وخت ناوخته په دغه ساحلي ښار کې پر هوټلونو او نورو ورته اهدافو بریدونه کوي چې د نظامي کسانو ترڅنګ تر ډېره پکې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي. د یادونې ده چې ملګرو ملتونو یاده ډله د خونړیو بریدونو او له القاعده شبکې سره د اړیکو په تړاو په تور لېست کې شامله کړې ده.

## شمالي کوریا: له امریکا سره مذاکراتو ته نور وخت نه لرو



د شمالي کوریا چارواکو ټینګار کړی چې له امریکا سره د خبرو بیا پیلېدو ته هېڅ تابیا نه لري او په وینا یې، له امریکا سره خبرې کول، نور د وخت د ضایع کولو په مانا دي.

د شمالي کوریا د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې چو سون خویي ویلي چې امریکا له شمالي کوریا سره په تېرو ناستو کې د لاسلیک شویو هوکړو له موادو سرغړونه کړې ده، نو دوی مجبور نه دي خپل وخت په بې ځایه مذاکراتو تېر کړي. هغې زیاته کړې، دوی د دې پر ځای چې له امریکا سره د مذاکراتو پر بیا پیل فکر وکړي، د امریکا د ګواښونو پر دفع کولو کار کوي. نوموړې دغه راز ویلي، شمالي کوریا له امریکا سره مذاکراتو ته نه وخت او نه هم د بحث لپاره څه لري.

د یادونې ده چې واک ته د ولسمشر ټرمپ له رسېدو سره سم، هیلې راپیدا شوې وې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ روان کړکېچ به پای ومومي خو، د امریکا او شمالي کوریا اړیکې د دواړو هېوادونو د مشرانو ترمنځ له درې ځله لیدنو وروسته لا ترینګلې شوې دي.

## وزارت معادن:
## سازمان بین‌المللی شفافیت صنایع استخراجی به تعلیق عضویت افغانستان پایان دهد



هارون چخانسوری، سرپرست وزارت معادن افغانستان، خواستار رفع تعلیق عضویت این کشور در سازمان بین‌المللی شفافیت صنایع استخراجی شده است.

این سازمان دو سال پیش به دلیل چالش‌هایی که در این صنایع در افغانستان وجود داشت، عضویت این کشور را به حالت تعلیق درآورد. سرپرست وزارت معادن و پطرولیم افغانستان از سازمان بین‌المللی شفافیت صنایع استخراجی خواسته که به تعلیق عضویت این کشور پایان دهد.

چخانسوری دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت که کشورش برای کنترل و استخراج معادن راهکار مشخصی دارد. به گفته آقای چخانسوری بر تعهد حکومت افغانستان برای تأمین شفافیت در استخراج معادن تأکید کرد. او گفت: «طوری که اعضای محترم گروه چند جانبه آگاه هستند، عضویت افغانستان در ابتکار شفافیت صنایع استخراجی نظر به مشکلات و اجرآت این کشور در جریان سال‌های ۲۰۱۴ تا ۲۰۱۷ میلادی به حالت تعلیق درآمد. امیدوارم با تطبیق برنامه‌های قبلی برای رفع تعلیق عضویت افغانستان اقدامات لازم صورت گیرد.»

سازمان بین‌المللی شفافیت معادن و صنایع دو سال پیش به دلیل عدم شفافیت در درآمد معادن، نبود راهکار روشن برای استخراج قانونی و غیرقانونی معادن و عدم هماهنگی با شرایط این سازمان سبب شد که عضویت افغانستان به حالت تعلیق درآید.

اما حالا وزارت معادن و پطرولیم افغانستان می گوید برای عضویت در این سازمان تمام شرایط مساعد شده و امیدوار است که پیش از کنفرانس ژنو، افغانستان عضویت این سازمان را دوباره به دست آورد.


## ژوند

## باور؛ د شرافت او راستۍ زېرنده




د شرافت او راستۍ ګټه دا ده چې خلک در باندې باور کوي. له باور پرته انسان د هېڅ شي څښتن نه شي کېدای. په ورځنیو چارو او دوو اړخیزو اړیکو کې باور تر هر څه مهم دی. باور په اصل کې هغه سرېښ دی، چې نور خلک پر تاسو پورې تړي او باور هغه څه دی چې تاسو پر یوه اغېزناک کس بدلوي. نن سبا خلک باور د یوې وسیلې په توګه کاروي. د ننني نړۍ خلک لالهانده په یوه لاربشود پسې ګرځي. غواړي د هغه چا تر اغېز لاندې راشي چې یوازې باور پرې کېدای شي. دوی داسې کسانو ته اړتیا لري چې د ښو ځانګړنو درلودونکي وي. که غواړې داسې یو ځوک واوسې چې خلک در باند باور وکړي، نو د صداقت او شخصیت دغه ځانګړنې باید ورځ تر بلې پیاوړې کړئ.

## زنجبیل د بدن دفاعي سیسټم پیاوړی کوي



د زنجبیل ریښې د انټي اکسیډاونو تر ټولو ښه سرچینه ده. څېړنو ښودلې چې زنجبیل د هغو سلولونو د ودې مخه نیسي چې په لویه کلمه کې د سرطان د جوړېدو لامل ګرځي. پر دې سربېره د تیو، سږو، پوستکي، پانکراس او پروستات سرطان مخنیوی هم کوي. په ورځني ډول د زنجبیل کارول مو د بدن دفاعي سیسټم پیاوړی کوي او د ژمي په یخو شپو کې مو له ذکام او انفولانزا څخه ژغوري. له هغې ورځې چې د زنجبیل خوند کشف شوی، د هر چا د پخلنځي مېلمه شوی او د خوړو د خوند د لا زیاتوالي لپاره یې کاروي. له زنجبیل څخه په هر ډول خوړو کې ګټه اخیستی شی، د خوړو خوند ښه کوي او د وزن په کمېدو کې در سره مرسته کوي. نباتات پېژندونکي وایي، هره کورنۍ باید د ورځې په اوږدو کې په خپل غذایي رژیم کې لږ تر لږه ۴۰ ګرامه زنجبیل وکاروي. زرګونه کلونه کېږي چې له زنجبیل څخه د جنسي قوت لپاره هم ګټه اخیستل کېږي.

ماسټر ډېټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank

